پوهنمل ډاکټر عبدالقیوم مومند ۲۰۱۲/۰۸/۱۳

# د ډیورنډ کرښې ته پلمه

د یوکال راپدیخوا د پاکستان لخوا د افغانستان پر خاوره تیری کیده، بیګناه افغانان په ننګرهار او کونړ کې وژل کیدل، کورونه او کروندې یې ورانیدې، مګر د حامدکرزي حکومت به پټه خوله ناست و او کوم عکس العمل به یې نه ښود. کله به چې د حامدکرزي، د هغه له ویاند، د دفاع او کورنیو چارو د وزارتونو له چارواکو او د ننګرهار او کونړ له والیانو څخه پوښتنه وشوه، هغوی به په دې هکله بیخبرې ښودله او دا به یې ویل چې هغوی په دې هکله کوم معلومات نه لري. ولسونو به نارې وهلې چې دوی د پاکستانیانو له خوا هره ورځ بمباریږي، کورونه یې ورانیږي او دوی په بیرحمانه توګه وژل کیږي، مګر حامدکرزي او د هغه د حکومت چارواکو به ویل چې د افغانستان په خاوره کوم تیری نه دی شوی.

کله مې چې تیره اونۍ له بیلابیلو رسنیو څخه واوریدل چې د افغانستان ولسي جرګې د ملي دفاع وزیر او کورنیو چارو وزیر نه د باور رایې واخستلې نو حیران شوم او یوڅو خبرې مې فکر ته راغلې چې تاسې سره یې دلته شریکول غواړم.

لومړی باید د یو افغان په توګه د حامد کرزي څخه دا پوښتنه وشي چې هغه ولې د دې واقیعت نه سترګې پټولې چې د افغانستان په خاوره د پاکستان لخوا یرغل او تیری کیده. حامد کرزي او د هغه د حکومت غړو داسې کوم مجبوریتونه درلودل چې دوی یې دې ته اړ کړي وو چې د افغان ولس په وژنه او په خاورې د یرغل نه سترګې پټې کړي؟

د څو کلونو وړاندې خبره ده. د لوستونکو به ښه په یاد وي چې د افغانستان په لویدیځ کې زموږ پر خاوره یرغل او تیری وشو او ورسره سم د افغان مهاجرو ژوند او اوسیدل په ایران کې د مرګ ژوبلې او لویو ستونزو سره مخ شو. کله به چې د حامدکرزي او د هغه د حکومت د چارواکو څخه په دې هکله پوښتنه وشوه نو پوره ناخبرتیا به یې ښودله او داسې به یې څرګندوله چې ګواکې هیڅ هم نه دي پیښ شوي. له دې نه څه موده وروسته، د ۲۰۱۰ رئیزکال د اکتوبر په میاشت کې، مو د ایران د حکومت لخوا حامدکرزي او د هغه د حکومت نور غړو ته د محمدعمر داودزي په لاس د ایرو (Euro) نه د ډکې پلاستیکي بوجۍ انځورونه په کورنیو او نړیوالو رسنیو کې ولیدل او دا راته څه ناڅه څرګنده شوه چې حامدکرزي او د حکومت نورو غړو یې ولې د ایران په یرغل او تیري او په افغانانو د ظلم او زیاتي کولو څخه سترګې پټولې.

د پاکستان لخوا د افغانستان پرخاوره پخوا هم تیرې کیده او مربوطه ولسونو به خپلو سیمه ایزو چارواکو ته شکایت کاوه مګر تیري د ځان سره مرګ ژوبله نه درلوده. کله چې محمدعمر داودزي په پاکستان کې د افغانستان سفیر وټاکل شو څه موده وروسته پر افغانستان د پاکستان تیری د مرګ ژوبلې سره مل شو. دلته دا پوښتنه رامینځته کیږي چې د محمدعمر داودزي سره د پاکستان د تیرې تړاو څه دی او تیری ولې ډیرشو. محمدعمر داودزي ولې د پاکستان د تیري په مقابل کې یوه ورځ هم احتجاج ونکړ او یا حامدکرزی داودزي د احتجاج په توګه افغانستان ته راونه غوښت. که د حامرکرزي او محمدعمر داودزي داستان ته په ایران کې په غور سره وکتل شي نو باید د پاکستان په مقابل کې د کرزي او داودزي د موقف په هکله باید کومه خیرانتیا رامینځته نه شي.

کله به هم چې د حامدکرزي څخه د پاکستان د تیري او مرګ ژوبلې په هکله پوښتنه وشوه نو هغه به ویل چې پاکستان زموږ ورور هیواد دی، دا د دښمنانو کارونه دې، دښمنان غواړي پاکستان بدنام کړي او د افغانستان او پاکستان ترمینځ اړیکې خرابې کړي.

رابه شو ولسي جرګې ته. د حامدکرزي نه د ولسي جرګې او مشرانو جرګې کوم غړي، کوم سیاستوال، کوم سیاسي څیړونکي او د رسنیو کوم خبرلوڅي یوه ورځ هم دا پوښتنه ونکړه چې د افغانستان په ختیځ کې پرته له پاکستان څخه بل کوم هیواد پروت دی چې زموږ سره دې دښمني ولري؟ که هدف یې په شمال ختیځ کې چین وي، نو که حامدکرزی او د هغه ملګري په جغرافیه او پوځي چارو او وړتیا نه پوهیږي، نور افغانان خو په دې پوهیږي چې په هغې غرونو کې تر اوسه داسې امکانات نشته چې چین دې د لنډې فاصلې د توپونو او توغندیو څخه کار واخستی شي او نظامي عملیات او ګوزارونه دې په ننګرهار او کونړ وکړی شي. البته د لرې فاصلې د وسلو امکانات د چین سره شته، مګر په کونړ او ننګرهار کې د لنډې فاصلې درنې وسلې استعمال شوي دي، نه د لرې فاصلې وسلې. که چین هم دښمن نه دی او پاکستان هم دښمن نه دی، نو دښمن څوک دی؟ په سیمه کې خو یواځې پښتانه پاتې شو چې د ډیورنډ دواړو خواوو ته ژوند کوي او هره ورځ وژل کیږي. آیا پښتون د پښتون دښمن دی او یو پښتون بل پښتون وژني؟ په دې خبره باید سړی ژور فکر وکړي.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

دوهمه خبره د ولسي جرګې د باور د رايې اخستلو ده. ولسي جرګه دا صلاحيت لري چې دا کار وکړي، مګر آيا دا صلاحيت يې پرځای استعمال کړی او که بيځايه يې ترې کار اخستی دی. په تيرو څو مياشتو کې به د ملي دفاع د وزارت او کورنيو چارو د وزارت د ځينو چارواکو او مسئولينو څخه دا اوريدل کيدل چې پاکستان د افغانستان پر خاوره تيری کوي او دوی به دا هم ويل چې که پاکستان دا تيری بند نه کړي نو افغانستان به لازم اقدامات وکړي. دلته بايد دا پوښتنه وشي چې د ملي دفاع وزارت او د کورنيوچارو وزارت چارواکو بيغوري کړې، معلومات يې نه دي راټول کړي، لازم تدابير يې نه دي نيولي، او لازم اقدامات يې نه دي کړي، او که معلومات يې راټول کړي، لازم تدابير يې نيولي، حامدکرزي ته يې رسولې او هغه پرې کوم عمل نه دی کړی او د اقداماتو امر يې نه دی ورکړی.

دافغانستان داساسي قانون پراساس د پوځ سترقوماندان ريس جمهور يعنې حامدکرزی دی. هغه بايد خپلو پوځونو ته د هيوادڅخه ددفاع په خاطر په تجاوزکوونکي او يرغلګر هيواد دحملې او يرغل امر ورکړي. آيا حامدکرزي دا امر ورکړی او که نه؟ که حامدکرزي دا امر ورکړی وي اود ملي فاع او کورنيوچارو وزيرانو دا امر نه وي پرځای کړی نو دا ملي خيانت دی او د هيواد سره د ملي خيانت سزا، نه يواځې په افغانستان بلکې د نړۍ په ګڼو هيوادونو کې، مرګ دی. له دوی څخه د باور رای اخستل کومه معنی نه لري. دوی بايد په ښکاره ډول اعدام شي ترڅو نور ترې زده کړه وکړي. که چيرې حامدکرزي دا امر نه وي ورکړي نو بيا خو بايد ولسي جرګه نه يواځې دا چې د حامد کرزي او د هغه له دواړو مرستيالانو څخه د باور رای واخلي، بلکې د ملي خيانت په جرم يې محکمې ته ورپه ګوته کړي.

دريم ټکی دا دی چې پاکستان ولې د افغانستان په خاوره تيرې کوي، افغانان وژني، خپلې پوستې د ډيورند کرښې نه لويديځ خوا ته دننه کوي او بيا په دې سيمو کې افغانان مجبوروي چې د پاکستان شناختي کارډ واخلي. که څو کاله وړاندې ولاړ شو او حالات وڅيړو نو په دې به پوه شو چې دا کومه نوې خبره نه ده بلکې د کمونستي نظام او روسي يرغل په مقابل کې د جهاد نه راپديخوا دا سلسله روانه ده.

پاکستان د روسانو او کمونستانو سره د جهاد په دوران کې د افغانستان پر حريم تيری کړی و او د افغانستان په خاوره کې يې پوستې جوړې کړې وې. څرنګه چې جهاد روان و او د روسانو او کمونستانو سره جګړې اوليت درلود مجاهدينو او د هغوی سياسي مشرانو دې ټکي ته ارزښت نه ورکاوه. هغه پوستې اوس هم په هماغې حال پاتې دي. لويه بيلګه يې په شمشاد کې د پاکستان د پوستې موقيعت دی. کله چې مجاهدينو او د هغوی مشرانو د کابل او نورو ولايتونو د قدرت پر ويش غوبل شروع کړ او د ولس مرګ او د هيواد ويجاړتيا ته يې ملا وتړله، پاکستان بيا له حالاتو څخه ګټه پورته کړه او د افغانستان خاورې ته نور هم راننوت. هاغه وخت ما په کليفورنيا کې د افغانانو په يوه سيمه ايزه راډيو کې يوه لنډه تبصره وکړه او د حالاتو په خطر وږغږيدم. اوس هم حالات هماغسې دي او تبصره هم هماغې ته ورته ده. پاکستان د طالبانو د حکومت په دوران کې نور هم د افغانستان خاورې ته رادننه شو او دې سلسلې اوس نوره پراختيا موندلې ده. پخوا به پاکستان په پټه، چل او فريب د افغانستان خاورې ته رادننه کيده او اوس د توپونو او بمونو په زور رادننه کيږي.

پاکستان په کابل کې د مجاهدينو په اسلامي حکومت فشار اچولی و چې د ډيورنډ کرښه په رسميت وپيژني، مګر د مجاهدينو حکومت دا کار ونکړ. وروسته يې پر طالبانو فشار راوړ چې د ډيورنډ کرښه په رسميت وپيژني، مګر بريالي نشو او طالبانو هم د هغوی له غوښتنې څخه سرغړونه وکړه. کله چې حامدکرزی د کابل پر څوکۍ کښينول شو، د افغانستان د چارو امريکايي کارپوه بارنيټ روبين په خپله يوه ليکنه کې وليکل چې اوس ښه موقع ده چې د جورج بوش حکومت پر حامدکرزي او شمالي ټلوالې فشار راوړي ترڅو د ډيورنډ کرښه په رسميت وپيژني، مګر د جورج بوش حکومت د حامدکرزي سره دا خبره رسماً مطرح نه کړه او دې ته موقع پيدا نه شوه چې حامد کرزی او شمالي ټلواله دې کوم دريځ ونيسي. که خبره مطرح شوې وی نو شمالي ټلوالې به دا خبره خامخا منلې وی او د حامدکرزي منل به هم د واقيعت نه ليرې نه وی. الله عالم دی.

په دې تيرو ديرشو کلونو کې پاکستان ته د افغانستان هيڅ حکومت هم دا نه دي ويلي چې د افغانستان خاورې ته ولې رادننه شوې يې او بايد بيرته خپلې پوستې بيرته د پاکستان خاورې ته يوسې. د پاکستان حکومت په واقيعت کې غواړي چې د افغانستان حکومت ورته ووايي چې د افغانستان خاوره پريږده او خپلې خاورې ته بيرته ولاړ شه. پاکستان غواړې د دې مسئلې نه داسې يو کړکيچ جوړ کړي تر څو نور هيوادونه او نړيواله ټولنه د دوي په مينځ کې کښيني. کله چې افغانستان د پاکستان سره د اوسني کړکيچ د حل خبرواترو ته کښيني نو پاکستان به لومړی پر دې ټينګار وکړي چې په خپله خاوره کې دی او د افغانستان پر خاوره يې تيری نه دی کړی. کله چې مجبور کړی شي او دا ومني چې د خپلې خاورې څخه راتيرشوی او د افغانستان پر خاوره يې تيری کړی نو د افغانستان حکومتي چارواکو ته به ووايي چې پاکستان ته خپله سيمه ورپه ګوته کړي او د افغانستان او پاکستان په مينځ کې پوله معلومه کړي. په دې وخت کې افغانستان مجبوريږي چې پاکستان ته د افغانستان او پاکستان ترمينځ پوله ورپه ګوته کړي. څنګه چې د افغانستان حکومت د دې زور او قدرت نه لري چې پاکستان ته ووايي چې د افغانستان او پاکستان ترمينځ پوله اباسين دی چې ختيځ کې ترې پاکستان پروت دی او لويديځ کې ترې افغانستان پروت دي، او


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

افغانستان د هند تر سمندر پورې غزيدلی دی، د افغانستان حکومت به مجبوريږي چې پاکستان ته ووايي چې د افغانستان او پاکستان ترمينځ پوله د ډيورنډ کرښه ده. داراز به افغانستان د ډيورنډ کرښه په حقوقي لحاظ په رسميت وپيژني.
کله چې افغانستان دا ادعا کوي چې پاکستان د خپلې پولې نه راديخوا د افغانستان پر خاوره تيری کوي په واقيعت کې افغانستان د ډيورنډ نه ختيځ خواته خاوره پاکستان ګڼي. افغانستان په پاکستان کې سفير لري او پاکستان په افغانستان کې سفير لري. که دې او ځينو نورو رسمي راکړو ورکړو او قراردادونو ته وګورو نو په غير حقوقي توګه افغانستان د ډيورنډ کرښه په رسميت پيژندلې ده. په نړيواله حقوقي ژبه دې ته defacto recognition وايي. يواځې دا پاتې ده چې افغانستان، پاکستان د ډيورنډ د کرښې نه ختيځ خوا ته په حقوقي لحاظ هم په رسميت وپيژني. دې ته په نړيواله حقوقي ژبه کې dejoure recognition وايي. که افغانستان، پاکستان د ډيورنډ د کرښې ختيځ خواته په حقوقي لحاظ هم په رسميت وپيژني، پاکستان به بيا هم د افغانستان په کورنيو چارو کې لاسوهنې کوي او د افغانستان پر خاوره به تيری کوي، ځکه پاکستان غواړي په افغانستان کې داسې يو کمزوری حکومت پر قدرت ناست وي چې تل پاکستان ته اړ وي او د پاکستان پلانونه په افغانستان او سيمه کې عملي کړي. د پاکستان د لاس وهنو او تيري د مخنيوي لار خبرې اترې نه، بلکې خپله خاوره بيرته لاس ته راوړل دي. دا چې خپله خاوره بيرته څنګه لاس ته راوړی شو، يو جلا بحث دې چې انشا الله د وخت او حالاتو سره سم به پرې ليکل وکړم.
څلورمه خبره د امريکا او نړيوالو پوځونو شتون په افغانستان کې او افغانستان سره د ستراتيژيکو تړونونو لاسليک کول دي. موږ بايد دا پوښتنه وکړو چې په دې ټولو تړونونو کې د افغانستان ګټه څه ده؟ د افغانستان په خاوره تيری کيږي، افغانان وژل کيږي او امريکا او نړيوال د افغانستان د خاورې نه دفاع نه کوي. دوی په افغانستان کې څه کوي؟ که دوی وايي چې دوی په افغانستان کې د ترهګرۍ سره مبارزه کوي نو دا خو نه يواځې دوی بلکې ټولې نړۍ ته ثابته وه او ثابته ده چې د ترهګرو ځالې په افغانستان کې نه، بلکې په پاکستان کې دي. اوساما بن لادن په ايبټ اباد کې استوګنه درلوده، نه په کابل کې. د جنګ، تشدد او تروريزم درسونه د پاکستان په مدرسو کې تدريسيږي نه د افغانستان په مدرسو کې. داسې بريښي چې د امريکايانو او نورو نړيوالو له نظره د تروريزم سره مبارزه يواځې د پښتنو وژل دي او بس. دا چې پښتون د ډيورنډ د کرښې کومې خوا ته مري مهمه نه ده. مهمه دا ده چې پښتون مري او د امپرياليستي قوتونو او د هغوی د ګوډاګيانو پلانونو ته لارې خلاصيږي. دا چې د پښتون وژنې په دې نړيواله لوبه کې څوک کوم رول لوبوي او کومه دسيسه پرمخ بيايي، ژور فکر او د پښتون ويښيدلو ته اړتيا لري او که نه نو شهيد شفيق صاحب څه ښه ويلي وو:

که دا يو چې په همدې شانې اوسيږو      نو په مړو او معدومو به شميريږو

سالت ليک سيټي، يوټا، د ۲۰۱۲ زئيزکال د اکتوبر ۱۲


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ